# د پېښور يونيورسټي څنګه جوړه شوه حقيقت څۀ دے؟

پروفېسر فرمان الدين بخشالي

په يو وخت کښې په پښتونخوا کښې د خدائي خدمتګار تحريک حکومت د ډاکټر خان صاحب د مشرۍ لاندې کار کولو. هغوي په دغه دوران کښې د صوبې د ترقۍ دپاره درانۀ ګامونه اخستي وو او د محدودو وسائلو باوجود ئې د صوبې د اولس د ښېرازۍ، ودې او ترقۍ دپاره لويې منصوبې جوړې کړې وې، ولې د وخت د تېرېدو سره هغه هر څۀ د خلقو هېر شو او موجوده نوے کُول خو د دې نه بالکل بې خبره او د غلطې پروپېګنډې په بهير کښې بې لارې شوے دے. د نننې دور د شاه ځلمو او نورو ناخبره کسانو د استفادې دپاره، زۀ د هغۀ وخت د وزير تعليم محمد يحيٰي خان (مرحوم) د يو کتابګي چې د مۍ د مياشتې په وړومبۍ نېټه کال ۱۹۷۲ کښې ئې "د حقيقت څۀ دے" په نوم خور کړے دے، د څۀ اقتباساتو ترجمه د لوستونکو د ښېګړې دپاره تبارکاً وړاندې کوم.



محمد يحيٰي خان مرحوم په حقيقت څۀ دے؟ کښې ليکي چې "کوم واقعات د نن نه پنځۀ ويشت دېرش کاله اګاهو تېر شوي دي او د هغې په نتيجه کښې ملک تقسيم شو، هندوستان او پاکستان دوه ازاد او خودمختاره ملکونه قائم شو، د هغې نه نۀ صرف زمونږ ځوان کُول بلکې تر ډېره حده هغه خلق هم قطعاً بې خبره دي چې د چا عمرونه اوس د ثلوېښتو کالو خواؤشا دي. دوي په هغه وخت د پنځلسو شپاړسو کالو په عمر کښې وو. د دوي سياسي شعور به ډېر کم ؤ. دوي د تصوير يو رُخ ليدلے دے. دوي ته د تېرو واقعاتو هېڅ علم نشته. د آزادۍ نه پس اګست ۱۹٤۷ کښې يو دېوال راښکلے شو، چې د دې نه په اګاهو پېښو پړده واچولې شوه چې عام اولس ته هيڅ پته ونۀ لګي چې صحيح صورتحال څۀ ؤ. د قيام پاکستان نه پس تر دې وخته صرف يو جماعت په اقتدار کښې پاتې شو چې هغه مسلم ليګ دے. دې ډلې په هر دور کښې د حکومت واک اختيار په لاس کښې لرلو. تر دې چې په کال ۱۹۵۸ کښې مارشل لاء ولګېده نو د فيلډ مارشل ايوب خان حکومت هم مسلم ليګو جوړ

کړو او ایوب خان پوځي جرنېل د مسلم لیګ ډلې صدر شو او د مملکت پاکستان صدر هم هغه ؤ. دغه شان دې ټولو مسلم لیګي حکومتونو په حقائقو پرده اچوله او کوم مواد چې دې حکومتونو په غلطه او د دروغژنې پروپېګنډې په توګه اولس ته وړاندې کړه هغوي قبوله کړه.

محمد یحیٰی جان مرحوم مخکښې لیکي چې: "د دې دپاره زۀ ځلمو ته په ډېر خلوص سره دا درخواست کوم چې دوي څۀ اوري او لولي هغه دې حرف آخر نۀ ګڼي. دوي ته ډېر غلط سلط او د دروغو نه ډک معلومات وړاندې شوي دي. دوي دې خپل زړونه او دماغ د یو ربنتوني طالبعلم په توګه ویښ بېدار او پرانستې لري. د حقیقت د معلوملو کوشش دې کوي.

د کال ۱۹۷۰ د انتخابي مهم په دوران کښې عبدالقیوم خان ډېر په اوچته غږه د دعوو په ذریعه د دې خبرې د ثابتولو کوشش کړے دے چې د پېښور یونیورسټۍ قیام او نور د صوبې د خیر ښېګړې کارونه د هغۀ د کوششونو نتیجه ده او د دۀ د برسراقتدار راتلو نه مخکښې چې کوم کارونه شوي دي، هغه هم د دۀ د کوششونو په برکت شوي دي. د دۀ نه علاوه د دې صوبې دپاره چا هیڅ کار نۀ دے کړے. د دې دپاره ما ضروري وګڼله چې هغه حقائق په ډاګه کړم چې دوي پرې پرده اچولې ده او ځوان کُول ترې ناخبره دے.

د یونیورسټۍ قیام: مرحوم یحیٰی جان لیکي: "د قیام پاکستان نه ډېر اګاهو د صوبې د عام اولس، ځوان کُول او تعلیم یافته ځلمو دا زور داره مطالبه وه چې د دې صوبې دپاره دې یوه ځان ته یونیورسټي جوړه شي. د دې دوه وجې وې. اول دا چې د پنجاب یونیورسټۍ دائرۀ عمل تر لرې لرې خور شوے ؤ. یعنې ټول پنجاب (مشرقي او مغربي) بلوچستان، صوبه سرحد، ریاست کشمیر، د پنجاب نور ملحقه ریاستونه لکه بهاولپور، پټیاله، کپور تهله وغیره. د دې وسعت له کبله د پنجاب یونیورسټۍ محض د امتحان اخستو یو مشین جوړ شوے ؤ، د پنجاب یونیورسټۍ زیاته توجه پنجاب خصوصاً د هغۀ وخت هندو پنجاب طرف ته وه، ځکه چې د یوینورسټۍ واک اختیار د هندوانو په لاس کښې ؤ. د دې صورت حال په وجه زمونږه صوبې ته رنګ رنګ مشکلات او تکالیف پېښېدل چې چرې چا ئې د حل کولو کوشش نۀ ؤ کړے.

دوېم دا چې د هغه وخت د پنجاب یونیورسټۍ زمونږه د صوبې د خاصو حالاتو، زمونږه د تمناګانو، زمونږه د ځلمو د ارمانونو او ضروریاتو څخه هیڅ قسم دلچسپي یا همدردي نۀ لرله. نۀ په یونیورسټۍ کښې زمونږۀ څۀ نمائندګي وه. د دې وجې نه زمونږه د ځلمو طبقه او تعلیم یافته ډله ډېره پرېشانه او مایوسه وه، خلقو وخت په وخت د اخباراتو په ذریعه، د مضامینو لیکلو په وسیله، د مراسلاتو په طریقه د خپلو دې خواهشاتو او مشکلاتو اظهار کولو او دا مطالبه ئې کوله چې د دې صوبې دپاره دې یوه ځان له یونیورسټي جوړه شي.

چنانچې په دې سلسله کښې په کال ۱۹۳۳ کښې د صوبې په وړومبنۍ اسمبلۍ کښې خان پیر بخش خان ایډوکېټ یو تجویز وړاندې کړو چې د صوبې دپاره دې یوه ځان ته یونیورسټي جوړه کړې شي. بیا په جنورۍ کال ۱۹۳۵ کښې په صوبائي

اسمبلۍ کښې په دوباره خان پير بخش خان ايډوکېټ خپل د دوؤ کالو زوړ تجويز راپورته کړو چې په صوبه کښې دې ځان ته يونيورسټي جوړه کړې شي.

لېکن د بدقسمتۍ نه د هغۀ وخت انګرېز حکومت نۀ دې طرف ته څۀ توجه ورکړه او نۀ ئې په دې سلسله کښې څۀ قدم پورته کړو. د ډېر افسوس خبره دا ده چې د هغه وخت مسلم ليګي حکومت چې د سردار اورنګ زېب خان په مشرۍ کښې قائم ؤ، په دې باب له هېڅ کارروائي ونۀ کړه.

د يونيورسټۍ د قيام وړومبے قدم:

خدائے بخښلي محمد يحيٰي جان په خپل کتابګي "حقيقت څۀ دے" کښې ليکي: په کال ۴۶-۱۹۴۵ کښې د عامو انتخاباتو نه پس د ډاکټر خان صاحب وزارت قائم شو چې زۀ په کښې د تعليم د محکمې د وزير په توګه شامل وم. دې وزارت چې د ټولو نه مخکښې کوم قدم وچت کړو، هغه د پېښور يونيورسټۍ د جوړولو پخه اراده وه.

په دې ضمن کښې په ۲۵ جون ۱۹۴۶ د يوينورسټۍ د قيام دپاره يوه صلاح كاره كمېټي جوړه شوه، د دې مشاورتي کمېټۍ صدر په حېث د وزيرتعليم زۀ په خپله وم. دا کسان ئې غړي وو.

1- انرېبل خان بهادر محمد ابراهيم خان جوډېشنل کمشنر صوبه سرحد.
2- خان بهادر شاه عالم خان ډائرېکټر تعليم صوبه سرحد.
3- شېخ محمد تېمور پرنسپل اسلاميه کالج پېښور.
4- قاضي محمد اسلم ايډوکېټ.
5- ميرولي الله ايډوکېټ ايبټ آباد.
6- خان بهادر صاحب شېخ عبدالحميد سينئر جج پېښور.
7- خان محمد جان خان بيرسټرېټ لاء بنو.
8- ريورينډ اې- ايم ډلايا پرنسپل ايډورډ کالج پېښور (سېکرټري)

دې صلاح کارې کمېټۍ ته هدايت وشو چې د هندوستان د مختلفو يونيورسټيو دوره دې وکړي. د دوي د آئين او طريقه کار دې په غور سره مطالعه وشي او د خپلې يونيورسټۍ دپاره دې يوه باضابطه مسوده تعليم تياره کړې شي. دې کمېټۍ خپل کار شروع کړو، د دې کمېټۍ وړومبے اجلاس په ۸ اکتوبر ۱۹۴۶ کښې وشو. په دې اجلاس کښې مشاورتي کمېټۍ يوه وړه کمېټي جوړه کړه چې هغې ته دا وېنا وشوه چې د حکومت د هداياتو مطابق يوه مسودۀ آئين مرتب کړي، د دې کمېټۍ غړي دا ښاغلي وو.

1. وزير تعليم چئيرمېن.
2. خان بهادر شاه عالم ډائريکټر تعليم.
3. خان صاحب شېخ عبدالحميد سنئير سب جج پېښور.
4. قاضي محمد اسلم خان ايډوکېټ پېښور.
5. شېخ محمد تېمور پرنسپل اسلاميه کالج پېښور.
6. ريورينډ اے ايم ډلايا پرنسپل ايډورډز کالج پېښور (سېکرټري).

د پېښور يونيورسټۍ د قيام په حقله محمد يحيٰي خان مرحوم مخکښې ليکي: په جنوري ۲۷ کښې دې کمېټۍ خپل کار مکمل کړو او خپل

رپــورټ چــې پــه هغــې کښــې د مجــوزه پېښــور یونیورسټۍ آئین هم شامل ؤ. مشاورتي کمېټۍ ته وړاندې کړو، کمېټۍ په دې مسوده ژور غور و فکر وکړو، بیا ئې د خپلو سفارشاتو سره حکومت ته وړاندې کړو.

د وزیر تعلیم په حېث ما دا مسوده د پېښور یونیورسټۍ د بل په صورت کښې د جمعې په ورځ ۲۱ مارچ کال ۱۹٤۲ ایوان ته وړاندې کړه او تجویز ئې پېش کړو چې دا بل دې د ایوان یو سبلکټډ کمېټۍ ته حواله کړے شي چې د مناسب مطالعې او ضروري اصلاح او ترمیم نه پس دا بل د ایوان راتلونکي اجلاس کښې پېش کړے شي.

د دې سبلکټډ کمېټۍ غړي دا صاحبان وو:

1- انرېبل چیف منسټر.
2- انرېبل وزیر مال.
3- انرېبل وزیر خزانه.
4- خان صاحب سردار اسدالله جان خان.
5- سېد قائم شاه.
6- خان عبدالقیوم خان سواتي.
7- خان عبدالقیوم خان بېرسټرېټ لاء.
8- خان حبیب الله خان.
9- خان سردار بهادر خان.
10- نواب قطب الدین خان.
11- ډپټي سپیکر.
12- ایډوکېټ جنرل.

ما چې دا بِل پېش کولو نو په خپل تقریر کښې مې وئیلي وو.

جناب والا- د دې بل پیش کولو مقصد په دې معزز ایوان واضح دے. پنجاب یونیورسټۍ سره تر اوسه پورې زمونږه الحاق دے، مونږه د څو کلونو راهســې دا محسوســوو چــې زمــونږه دې خپلــه یونیورسټي وي چې انتظام ئې زمونږه د صوبې د خلقو په لاس کښې وي، د پنجاب یونیورسټي دایرۀ عمل ډېره خوره شوې ده، دا یونیورسټي اوس صرف د امتحانونو اخستلو یو مشین غوندې دے چې زمونږه ضرورتونه ترې نه نۀ پوره کېږي. مونږه دا یقین لرو چې د دې یونیورسټۍ په قیام سره به پنجاب یونیورسټۍ ته هم مدد ورسي. د کار بوج به ئې سپک شي، پکار دے چې زمونږه د دې کار هرکلے وشي. زۀ د دې الفاظو سره دا بِل د ایوان مخې ته ږدم. (د دې بل سرکاري شائع شده کاپي ماسره موجوده ده).

چې دا بل ایوان ته وړاندې کړے شو نو دې ښاغلو د دې بل هرکلے وکړو او د خپلې ډېرې خوشحالۍ او ستائینې اظهار ئې وکړو.

1- خان عبدالقیوم خان سواتي.
2- خان صاحب سردار اسدالله جان خان.
3- پیر شهنشاه.
4- خان عبدالعزیز خان.

دا زمونږه د پېښور د یونیورسټۍ تاریخ او د هغې پس منظر دے. دا د عام اولس د نظرونو نه پټ ساتلے شوے دے. لوستونکي دې اوس په خپله اندازه ولګوي چې حقیقت څۀ دے.

خدائے بخښلي یحیٰي جان خان په خپل کتابګي کښې د نورو داسې کارنامو ذکر کړے دے چې د خدائي خدمتګارو حکومت سر ته رسولي دي.

د پښتونخوا د موجوده صوبائي حکومت د اختیار واګې د خدائي خدمتګار تحریک د تسلسل عوامي نېشنل پارټۍ په لاسونو کښې دي، دوي ته

پکار دي چې خپلې زړې کارنامې د اولس مخې ته راولي او د ډاکټر خان صاحب حکومت د خپل ځان دپاره رول ماډل وګرځوي چې هغوي په کومو نامساعدو حالاتو کښې د صوبې د عوامو خدمت کړے ؤ.